مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۲/۰۸

د لنډیو پر تېټر باندې د کډوالۍ انځور

۱۲مه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۳۱مه برخه

جنګ دې په کور کې ورمیلمه شي
بیا به یې ګورو تهران کوم پلو ته ځینه

تهرانه زړه مې په ښېرا دی
درباندې جوړ شه د راکټو بارانونه

بیا د ایران پرلارو نه‌ځم
که مې مرګی دلته په کور کې میلمه شینه

پرما دې ځوانه ځواني اور کړه
پر تا دې اور شي ایرانیه ټول عمرونه

دا د یوې امریکایي دیپلوماتې «وندی شرمن» خبره ده چې غولول او تېرایستنه، د ایرانیانو د ډې‌ان‌ای یوه برخه ده. یادې دیپلوماتې داسې ویلي وو:

"فریب و نیرنگ قسمتی از دی اِن اِی (DNA) ایرانیان است."

د همدې واقعیت له مخې د ایرانیان هرڅه له دروغو او تقلب سره مل وي. له افغان کډوالو سره د چلن، د افغان کډوالو وهل ـ ټکول ـ لوټل او وژلو کې هم دوی ډېره سلنه خبرې پټوي. پخوا لا لیدل شوي دي چې افغان کډوال اول وژني او بیا یې مړی د کورنۍ پرغړو باندې خرڅوي.

له پاکستان او ایران څخه د افغانانو د شړلو پروسه ورځ تربلې کړندۍ او ظالمانه بڼه غوره کوي. په تازه رپوټونو کې ویل شوي دي چې یوازې د ایران د دوغارون بندر له لارې د پنځو ورځو په اوږدو کې شپاړس‌زره افغانان، افغانستان ته راشړل شوي، داسې چې د ناوړه چلن ترڅنګ لوټل شوي او بیا راشړل شوي دي. د تاند په یو لنډ رپوټ کې داسې راغلي دي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«تاند (سې شنبه، د قوس ۱۴ مه) ایراني چارواکو ویلي چې یوازې د دوغارون پولې له لارې یې تېرو ۵ ورځو کې تر ۱۶ زرو پورې افغان کډوال له خپلې خاورې شړلي.

د ایران یوه چارواکي سردار مجید شجاع، د دغه هېواد تسنیم خبري اژانس ته ویلي چې دغه شړل شوي کډوال په ناقانونه توګه د ایران خاورې ته ننوتي وو.

هغه ادعا کړې چې ګڼ نور ناقانونه افغان کډوال هم له ایرانه اېستل شوي او دا لړۍ به دوام ولري. دا په داسې حال کې ده چې ایراني چارواکو د دغه هېواد ۱۶ ولایتونو ته د افغان کډوالو پر ورتلو بندیز لګولی.

سربېره پر دې، له ایرانه خپل هېواد ته ستانه شوي افغانان د ایراني ځواکونو له ناوړه چلنده شکایت لري او وایي د وهلو ټکولو تر څنګ یې د دوی جیبونه لوټ کړي.

د طالبانو د کډوالو او بېرته راستنیدونکو وزیر خلیل الرحمان حقاني هم څه موده مخکې د افغانستان لویدیز ته چې ایران سره پوله لري، د سفر پر مهال د افغان کډوالو لخوا د داسې شکایتونو اورېدل تایید کړل...»

په دې ډول ایرانیان خپل ګاونډیتوب، هممذهبتوب او همژبتوب له موږ سره پالي. د متضررینو غږ څوک نه‌اوري، متضررین او کورنۍ یې کله ـ کله د لنډیو په قالب کې د زړه‌خبرې او شکایتونه تلپاتې کوي، دا یې څو بېلګې دي:

ایران دې خدای د اور لمبه کړي
چې کړوي زموږ ځوانان په ستمونه

جنګ دې په کور کې ورمیلمه شي
بیا به یې ګورو تهران کوم پلو ته ځینه

د جنګ وبا دې درمیلمه شي
توره پنجابه زه ښېرې درته کومه

تهرانه زړه مې په ښېرا دی
درباندې جوړ شه د راکټو بارانونه

بیا به دې خدای راته احتیاج کړي
نن خو مې باسي او هېڅ نه کوې رحمونه

پرټولو بدو به پښېمان شئ
تهران پنجابه دومره مه کوئ ظلمونه

ته خو به وایې چې هېرېږي
زما به هېر نه‌شي ستا ټول کړي ظلمونه

بیا د ایران پرلارو نه‌ځم
که مې مرګی دلته په کور کې میلمه شینه

له پاکستانه مې توبه ده
نه مسلمان دي، نه یې سم دې چلندونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پرما دې ځوانه ځواني اور کړه
پر تا دې اور شي ایرانیه ټول عمرونه

د برید ترکرښې به پټ ناوړم
ایرانی بیا ډزې کوي، ټپي به شمه

نن هماغه کانه راوشوه
زه مسافز ایران مې بېرته راشړینه

پرزړه دې ډېر داغونه راکړل
تهرانه ستا جفا به چا ته یادومه

ډېروخت شو خوب مې تښتېدلی
پردی وطن دی ځان مې بد احساسومه

هجرت د خلکو د خندا کړو
ښه خو به دا وي چې نور خپل وطن ته ځونه

د کابل باد وایي چې راشه
نور څه ته ناست یم، اوچت اخلم قدمونه

زموږ قسمت د سالنګ غر دی
پر نورو لمر دئ، پرموږ واورې وروینه

نور خو مې هېڅشی په‌کار نه دي
ما ته د خپل وطن لارښیه چې ورځمه

نور به بهر ته زړه ښه نه‌کړم
چې د ګاونډ مې دا ظلمونه په یاد وینه

تردې ساده به چېرې نه وي
د نورو ګټو ته چې وینې تویوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ